دافغانستان اسلامي جمهوريت
دعدليې وزارت

# رسمي جريده

## فوق العاده گڼه

- دنباتي ورایټیو دحفاظت (ساتنې) قانون
- دحیواني روغتیا (وترنرۍ) قانون
- دکرنیزو آفت وژونکو قانون

- قانون حفاظت ورایتی های نباتی
- قانون صحت حیوانی (وترنری)
- قانون آفت کش های زراعتی

دخپرېدو نېټه: د۱۳۹۵هـ.ش کال دتلې دمياشتې (۲۰)
پرله پسې نمبر: (۱۲۲۹)

تاريخ نشر: (۲۰) ميزان سال ۱۳۹۵ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۲۲۹)

| | |
|---|---|
| د امتیـــاز خاوند: | دعدلیـــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمـــم:محمد جان | ۰۷۸۳۳۰۶۹۸۲ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت: (۳۲/٦۴)افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰)جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۱۳٦)صفحه

مطبعه: صـــــدف

آدرس:وزارت عـــدلیه، ریاست نشرات و ارتباطعـــامه،سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان (شیرپور)کابل

## د کرنیزو آفت وژونکو د قانون په اړه د ملي شورې د مجلسینو د ګډ هیئت د فیصلې د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۹۹)

نېټه: ۳۱/ ۵/ ۱۳۹۵

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱۶) جزء او د (۱۰۰) مادې د (۲) فقرې د حکمونو له مخې د کرنیزو آفت وژونکو د قانون په اړه د ملي شورې د مجلسینو د ګډ هیئت د ۴/ ۲/ ۱۳۹۵ نېټې (۲۱۶) ګڼه فیصله په (۶) فصلونو او (۳۰) مادو کې، توشېح کوم.

دوه یمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ، د ملي شورې د مجلسینو د ګډ هیئت له فیصلې او د نوموړي قانون له متن سره

## فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح فیصله هیئت مختلط مجلسین شورای ملی پیرامون قانون آفت کش های زراعتی

شماره: (۹۹)

تاریخ: ۱۳۹۵/۵/۳۱

مادۀ اول:

به تأسی از احکام جزء (۱۶) مادۀ (۶۴) و فقرۀ (۲) مادۀ (۱۰۰) قانون اساسی افغانستان، فیصله شماره (۲۱۶) مؤرخ ۱۳۹۵/۲/۴ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی را در مورد قانون آفت کش های زراعتی به داخل (۶) فصل و (۳۰) ماده، توشیح می دارم.

مادۀ دوم:

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ، همراه با فیصلۀ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی و متن

**یوځای دې په رســـمي جريـــده کـــې خپورشي.**

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس**

**قانون متذکره در جريدهٔ رسمی نشر گردد.**

**محمد اشرف غنی**

**رئيس جمهور اسلامی افغانستان**

## د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

## ملي شوري

## د كرنيزو آفت وژونكو قانون

## فيصله

ګڼه: (۲۱٦)

نېټه: ۴/ ۲/ ۱۳۹۵

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د (۱۰۰) مادې له درج شوي حكم سره سم، د ملي شوري د دواړه جرګو له ځلور، ځلور غړو څخه جوړشـــوي ګـــډ هيئت د كرنيزو آفت وژونكو د قانون په هكله د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس ۸/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې (۷۱) ګڼـــه تقنيني فرمان د يولړ تعديلونو سره په (٦) فصلونو او (۳۰) مادو په د ننـــه كـــې د ۴/ ۲/ ۱۳۹۵ نېټې شنبې ورځـــې پـــه غونډه كې فيصله كړ.

د ګډ هيئت رئيس

حاجي محمد هاشم

د ګډ هيئت مرستيال

صالحه مهرزاد

## دولت جمهوری اسلامی افغانستان

## شورای ملی

## فيصله

## قانون آفت كش های زراعتی

شماره: (۲۱٦)

تاريخ: ۱۳۹۵/۲/۴

به تأسی از حكم مادۀ (۱۰۰) قـــانون اساسی جمهوری اسلامی افغانســـتان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی به تركيب چهار، چهار نفـــر از اعضـــای هرجرگه فرمان تقنينی شـــماره (۷۱) مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۸ رئيس جمهـــوری اسلامی افغانستان در رابطه به قـــانون آفت كش های زراعتـــی را بـــا يـــک سلســـله تعـــديلات بـــه داخـــل (٦) فصل و (۳۰) ماده در جلسۀ روز شنبه مؤرخ ۱۳۹۵/۲/۴ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

حاجی محمد هاشم

معاون هيئت مختلط

صالحه مهرزاد

# فهرست مندرجات

## قانون آفت کش های زراعتی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀاول: | مبنی | ۹۸ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۹۸ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۹۹ |
| مادۀ چهارم: | مرجع تطبیق | ۱۰۴ |


### فصل دوم

### وظایف و صلاحیت ها


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم : | وظایف وصلاحیت‌های ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطین. | ۱۰۴ |
| مادۀ ششم : | کمیتۀ آفت کش زراعتی | ۱۰۶ |
| مادۀ هفتم : | وظایف و صلاحیت های کمیته | ۱۰۸ |
| مادۀ هشتم : | توظیف مفتشین | ۱۱۰ |
| مادۀ نهم : | داشتن حق اعتراض | ۱۱۱ |


### فصل سوم

### اجازه نامه


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ دهم : | صدور اجازه نامه | ۱۱۲ |

مادۀ یازدهم: خریداری بدون اخذ اجازه نامه......................۱۱۵
مادۀ دوازدهم: مکلفیت دارندۀ اجازه نامه........................۱۱۵
مادۀ سیزدهم: تجدید اجازه نامه...................................۱۱۶
مادۀ چهاردهم: لغو اجازه نامه.....................................۱۱۷
مادۀ پانزدهم: تسلیمی اجازه نامه.................................۱۱۷

## فصل چهارم

## ثبت آفت کش

مادۀ شانزدهم: درخواست ثبت.........................................۱۱۸
مادۀ هفدهم: منع تورید آفت کش های زراعتی ثبت ناشده..........۱۱۹
مادۀ هجدهم: اجازه نامۀ مؤقت تحقیق...............................۱۱۹
مادۀ نزدهم: استفاده از آفت کش های زراعتی درحالات..............
اضطراری.....................................................۱۲۰
مادۀ بیستم: حذف آفت‌کش های زراعتی ازدفتر ثبت...............۱۲۱
مادۀ بیست ویکم: منع استفاده از آفت کش های زراعتی...............۱۲۲
مادۀ بیست ودوم: نتایج تحقیقات.........................................۱۲۳

## فصل پنجم

## تدابیر حفاظتی

مادۀ بیست وسوم: نصب لیبل (برچسب)..............................۱۲۴
مادۀ بیست و چهارم: منع اعلانات تجارتی.............................۱۲۵

## فصل ششم

## احکام متفرقه

مادهٔ بیست و پنجم: ایجاد لابراتوار........................................۱۲۶
مادهٔ بیست وششم: ساحهٔ فعالیت لابراتوار..................................۱۲۶
مادهٔ بیست و هفتم: مؤیدات تأدیبی..........................................۱۲۸
مادهٔ بیست و هشتم: مکلفیت ادارات..........................................۱۳۰
مادهٔ بیست و نهم: پیشنهاد مقرره و وضع طرزالعمل ها....................۱۳۱
مادهٔ سی ام: انفاذ................................................................۱۳۱

## د کرنيزو آفت وژونکو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د څوارلسمې او پنځلسمې مادو د حکمونو په رڼا کې وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د کرنيزو آفت وژونکو له توليد،توريد، لېږد، ساتنې، وېش او له هغو څخه د ګټې اخيستنې کنترول.

۲- د انسانانو، حيواناتو او نباتاتو سلامتيا ته له آفت وژونکو څخه له راپيدا کېدونکو خطرونو مخنيوی.

۳- د آفت وژونکو له ناوړو اغېزو څخه د نباتاتو او د ژوند چاپېريال ساتنه.

## قانون آفت کش های زراعتی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون در روشنی احکام مواد چهاردهم و پانزدهم قانون اساسی افغانستان وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قا نون عبارت اند از:

۱- کنترول تولید، تورید، انتقال، نگهداری، توزیع و استفاده از آفت کش های زراعتی.

۲- جلوگیری از خطرات ناشی از استفاده آفت کش ها به سلامت انسانها، حیوانات ونباتات.

۳- حفاظت نباتات و محیط زیست از اثرات سوء آفت کش ها.

۴- په بې خطره لاروچارو د کرنیــزو محصولاتو له ضایعاتو څخه مخنیوی.

**اصطلاحګانې**

**درېیمه ماده:**

په دې قانون کې دغه اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- کرنیز آفت: د حشراتو، نماتودونو، مرضـــونو (قارچونــــه، ویروســـونه او باکتریا وې) او هرزه ګیاوو په شــــان ټول ژوندي عوامل دي چې پر نباتــــاتو او نباتي محصولاتو حمله کـــوي او د کمیت او کیفیت له لحاظه د هغـــو د زیان باعث شي.

۲- کرنیز آفت وژونکي: هغه کیمیاوي مرکبات او مواد دي چې د کرنیز آفت د مخنیوي، کنترول یا له منځه وړلـــو لپاره تر ګټې اخیستنې لانـــدې نیـــول کېږي، لاندې موارد هم په هغو کـــې شامل دي:

- د انساني او حیـــواني مرضـــونو د عواملو لېږدوونکي.

- په دې قانون کې درج د ناغوښـــتو

۴- جلوگیری ازضایعات محصولات زراعتی با شیوه های بی خطر.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی دراین قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- آفت زراعتی: تمام عوامل زنـــده مانند حشرات، نماتودهــــا، امـــراض (قارچها، ویروس ها و باکتریاهــــا) و گیاه های هرزه اند که بالای نباتات و محصولات نباتی حمله ور شده و از لحـــاظ کمیـــت و کیفیـــت باعـــث خساره آنها گردد.

۲- آفت کـــش زراعتـــی: مرکبـــات کیمیاوی ومـــواد انـــد کـــه جهـــت جلوگیری، کنترول یا ازبـــین بـــردن آفت زراعتی مـــورد اســـتفاده قـــرار می گیرد، موارد ذیـــل نیزشـــامل آن می باشد:

- انتقال دهنده عوامل امراض انسانی و حیوانی.

- انواع نباتات و حیوانات ناخواســـته

(نا خواسته) نباتاتو او حيواناتو ډولونه.
– هغه مواد چې د کرنيزو آفتونو د کنترول لپاره د نباتاتو يا حيواناتو د بدن د ننه يا بهر ګټه اخيستل کېږي.
– هغه مواد چې د نباتاتو دودې، د ونود پاڼو د رژېدو او د ګياوو د وچولو د تنظيم لپاره کارول کېږي.
–هغه مواد چې د کرنيزو محصولاتو د ساتنې لپاره د حاصلاتو له راټولولو د مخه يا وروسته د هغو د ساتلو يا لېږد په بهير کې استفاده کېږي.
– هغه مواد چې د مضره ذره بيني موجوداتو دله منځه وړلو يا غير فعالولو، دفع کوونکو موادو، حشراتو، دجلبوونکو موادو، لرې (ايسته) کوونکو او د حشراتو عقيموونکو موادو لپاره کارول کېږي.
۳– محو: هغه فعاليتونه دي چې د زائيدو موادو، استفاده شوو بار جامو او په کرنيز آفت وژونکو د ککړو موادو د خنثي کولو، ويجاړولو يا مجزاء کولو لپاره استفاده کېږي.
۴– برچسب (ليبل): ليکلې، چاپي يا

مندرج اين قانون.
– موادی که جهت کنترول آفات زراعتی در داخل يا خارج بدن نباتات يا حيوانات استفاده می گردد.
– موادیکه جهت تنظيم نموی نباتات، ريختن برگ درختان و خشک کردن گياهان بکارميرود.
– موادیکه بالای محصولات زراعتی قبل يا بعد ازجمع آوری حاصلات جهت حفاظت در جريان نگهداری يا انتقال آن استفاده می گردد.
– موادیکه جهت ازبين بردن يا غيرفعال کردن موجودات ذره بينی مضره، مواد دفع کننده، حشرات، مواد جلب کننده، دورکننده ومواد عقيم کننده حشرات به کارمی رود.
۳– محو: فعاليت های است که جهت خنثی سازی، تخريب يا مجزاء قرار دادن مواد زائد، بارجامه های استفاده شده و مواد آلوده آفت کش های زراعتی صورت می گيرد.
۴– برچسب (ليبل): ورق نوشتاری،

ګرافیکي پاڼه ده چې د آفت وژونکو یوې بستې یا بستو لرونکو پرهر پوښښ باندې نښلول (لګول) شوې وي.

۵- بسته یا بسته بندي: له ساتونکي پوښ سره صندوق یا جعبه ده چې د کرنیز آفت وژونکي د لېږدولو لپاره، مستهلکینو ته د پرچون یا عمده پلورونکو په واسطه ترګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

۶- بقایا (پاتې شوني): هغه مواد دي چې په خوراکي موادو، کرنیزو محصولاتو، د حیواناتو په علوفه کې له آفت وژونکو څخه د ګټې اخیستنې په پایله کې پرځای پاتې او لاندې موارد پکې شاملېږي:

- د کرنیزو آفت وژونکو ټول مشتقات لکه ترکیبي محصولات او د هغو میتابولیزمي مواد او هغه مواد چې د کیمیاوي تعامل او نا خالص والي له امله منځته راغلي او د زهر پېژندنې د علم له نظره د نه توجیه وړوي.

- هغه بقایاوې چې د کیمیاوي موادو د استفادې په پایله کې د نامعلومو عواملو

چاپی یا گرافیکی است که بالای یک بسته یا هر پوششی حاوی بسته های آفت کش ها چسپانده شده باشد.

۵- بسته یا بسته بندی: صندوق یا جعبه همراه با پوش محافظتی آن است که جهت انتقال آفت کش زراعتی به مستهلکین توسط عمده یا پرچون فروشان مورد استفاده قرار می گیرد.

۶- بقایا: موادی است که در نتیجه استفاده آفت کش ها در مواد خوراکی، محصولات زراعتی، علوفه حیوانات بجا مانده و شامل موارد ذیل می گردد:

- تمام مشتقات آفت کش های زراعتی مانند محصولات ترکیبی و مواد میتابولیزمی آن و موادیکه در اثرتعامل کیمیاوی وناخالص بودن به میان آمده و از نظر علم زهرشناسی غیر قابل توجیه باشد.

- بقایای که در نتیجه استفاده مواد کیمیاوی دراثر عوامل

یا اجتناب ناپذیرې له امله پرځای پاتې وي.

۷- تأسیسات: هغه ځمکه، هټۍ (دوکان)، غرفه، مکان، نقلیه و سایط یا هرځای دی چې آفت وژونکي هلته تولیدېږي، ساتل کېږي، لېږدول، پلورل کېږي یا تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

۸- وېش: هغه پروسه ده چې آفت وژونکي د سوداګرۍ له لارې کورنیو یا بین المللي مارکېټونو ته لېږدول کېږي او وړاندې کېږي.

۹- تولیدوونکی: عام یا خاص حکمي شخص دی چې په مستقیمه توګه یا د خپلو نمایندګیو او یا یوه قراردادي شخص له لارې اغېزمن یا فعال آفت وژونکي مواد تولید، فورمولبندي کوي یا د هغو محصولات برابروي.

۱۰- خطر: د انسان سلامت یا د ژوند چاپېریال ته احتمالي او جدي منفي اغېزه ده چې له یوه آفت وژونکي څخه له ګټې اخیستنې وروسته منځته راځي.

۱۱- زهر: هغه ماده ده چې د انسان،

نامعلوم یا اجتناب ناپذیر بجا مانده باشد.

۷- تأسیسات: زمین، دکان، غرفه، مکان، وسایط نقلیه یا هر محلی است که آفت کش ها در آن تولید، نگهداری، انتقال، فروش یا مورداستفاده قرار می گیرد.

۸- توزیع: پروسهٔ است که آفت کش ها از طریق تجارت به مارکیت های داخلی یا بین المللی انتقال وعرضه می گردد.

۹- تولید کننده: شخص حکمی عام یا خاص است که بطور مستقیم یا ازطریق نمایندگی های خود ویا یک شخص قراردادی مواد موثر یا فعال آفت کش را تولید، فورمولبندی یا محصولات آنرا تهیه می نماید.

۱۰- خطر: تاثیر منفی احتمالی و جدی به سلامت انسان یا محیط زیست است که بعد از استفاده یک آفت کش به میان می آید.

۱۱- زهر: مادهٔ است که باعث

نبات يا حيوان په جوړښت يا فعاليت کې د اختلال (ګډوډۍ) باعث کېږي او د هغو د ټاکلي مقدار جذب د هغو د مړينې موجب ګرځي.

۱۲- فورمولبندي: د ټولو فعالو اجزاوو او نورو موادو ترکيب دی چې د يوه آفت وژونکي د مطلوب مفيديت او اغېزمنتوب لپاره په هغه ډول چې په مارکيټ کې پلورل کېږي، کارول کېږي.

۱۳- د کرنيز آفت وژونکي محصول: د ترکيب شوي آفت وژونکي اغېزمن مواد او نور اجزاء دي چې په هماغه ترکيب سره بسته بندي او پلورل کېږي.

۱۴- مسموميت: د کرنيز آفت وژونکي په واسطه د حيه (د انساني، حيواني او نباتي) موجوداتو د فعاليت اختلال دي.

۱۵- فعال اجزاء ( اغېزمنه ماده): په آفت وژونکو کې کيمياوي ماده ده چې اصل عمل سرته رسوي.

۱٦- اجازه ليک: هغه ليکلی

اختلال در ساختار يا فعاليت انسان، نبات يا حيوان گرديده و جذب مقدار معين آن موجب مرگ آنها می گردد.

۱۲- فورمولبندی: ترکيب تمام اجزای فعال و ساير موادی است که جهت مفيديت وموثريت مطلوب يک آفت کش به شکلی که در مارکيت بفروش ميرسد، بکار ميرود.

۱۳- محصول آفت کش زراعتی: مواد موثر و ساير اجزای آفت کش ترکيب شدۀ است که به همان ترکيب بسته بندی وبه فروش ميرسد.

۱۴- مسموميت: اختلال فعاليت موجودات حيه (انسانی، حيوانی ونباتی) توسط آفت کش زراعتی می باشد.

۱۵- اجزای فعال (ماده موثره): مادۀ کيمياوی درآفت کش ها است که اصل عمل را انجام می دهد.

۱٦- اجازه نامه:سند کتبی است که

سند دی، چې ددې قانون د حکمونـــو مطابق د کرنیـــزو آفـــت وژونکـــو د وارداتو، صادراتو، لېږد، ساتنې، پلور او اعلان په منظور د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت لخوا صادرېږي.

۱۷- د ثبت دفتر: هغه دفتر دی چـــې کرنیز آفت وژونکي له کمي او کیفـــي مشخصاتو سره په هغه کې ثبتېږي.

**د تطبیق مرجع:**

**څلورمه ماده:**

د کرنې، اوبو لګولـــو او مالـــدارۍ وزارت د دې قانون د حکمونو د تطبیق مسئول دی.

## دوه یم فصل

## دندې او واکونه

**د نباتاتو د ســـاتنې او قـــرنطین د ادارې دندې او واکونه**

**پنځمه ماده:**

د نباتاتو د ســـاتنې او قـــرنطین اداره د لاندې دندو او واکونـــو لرونکـــې ده:

به منظور، تورید، تصـــدیر، انتقـــال، نگهداری، فروش واعلان آفت کـــش های زراعتی مطابق احکام این قانون از طرف وزارت زراعت، آبیاری ومالداری صادر می گردد.

۱۷- دفترثبت: دفتری اســـت کـــه آفت کش های زراعتی با مشخصـــات کمی وکیفی درآن ثبت می شود.

**مرجع تطبیق**

**مادهٔ چهارم:**

وزارت زراعت، آبیـــاری و مالـــداری مسئول تطبیق احکـــام ایـــن قـــانون می باشد.

## فصل دوم

## وظایف وصلاحیت ها

**وظایف وصـــلاحیت هـــای ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطین**

**مادهٔ پنجم:**

ادارهٔ حفاظـــت نباتـــات وقـــرنطین دارای وظایف وصلاحیت های ذیـــل می باشد:

۱- په دې قانون کـې د درج شـوي اجازه لیک صادرول او ثبت.
۲- د کرنیز آفت وژونکي د ساتنې او کنترول او له هغه څخه د څـارنې او پلټنې لپاره د پروګرامونـو طـرح او تطبیق.
۳- د کرنیز آفت وژونکي په هکله د څېړنیزو (تحقیقاتي) پروګرامونو طرح او تطبیق.
۴- ددې قانون د حکمونـو مطـابق، د آفت وژونکو له کمیټې سره په مشوره کې، د کرنیزآفت وژونکي د بقا یا وو د اکثریت حد د غلظت تأیید.
۵- د قانون د حکمونو مطـابق لـه هېوادونو د نباتاتو د ساتنې لـه ملـي، سیمه ایزو او بین المللي سازمانونو سره دروابطو تأمینول.
۶- د آفت وژونکو د کمیټې د غونډو تدویر او تنظیم.
۷- په دې قانون کې درج د نورو دندو سرته رسول.

۱- صدور وثبت اجازه نامۀ مندرج این قانون.
۲- طـرح وتطبیـق پروگـرام هـا جهـت نگهـداری و کنتـرول آفت کش زراعتی ونظارت وتفتـیش ازآن.
۳- طرح وتطبیـق پروگـرام هـای تحقیقـاتی در مـورد آفـت کـش زراعتی.
۴- تائیـد حـداکثرغلظت بقایـای آفـت کـش زراعتـی در مشـوره با کمیته آفت کش ها، مطابق احکـام این قانون.
۵- تـأمین روابـط بـا کشـورها و سازمان هـای ملـی، منطقـوی و بین المللی حفاظـت نباتـات طبـق احکام قانون.
۶- تدویروتنظیم جلسات کمیته آفت کش ها.
۷- انجـام سـایروظایف منـدرج این قانون.

## د کرنیز آفت وژونکي کمیټه

**شپږمه ماده:**

(۱) ددې قانون د حکمونو د ښه تطبیق په منظور، د کرنیزو آفت وژونکو کمیټه په لاندې ترکیب سره جوړېږي:

۱- د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مسلکي معین د رئیس په توګه.

۲- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د نباتاتو او قرنطین د ساتنې رئیس، د مرستیال په توګه.

۳- د سوداګرۍ او صنایعو وزارت واکمن استازی، د غړي په توګه.

۴- د عامې روغتیا وزارت واکمن استازی، د غړي په توګه.

۵- د کرنیزو څېړنو د انستیتوت رئیس، د غړي په توګه.

۶- د مالدارۍ او حیواني روغتیا د خدمتونو عمومي رئیس، د غړي په توګه.

۷- د ژوند چاپېریال ساتنې د ملي ادارې واکمن استازی، د غړي په توګه.

۸- د نورم او ستندرد د ملي ادارې

## کمیتهٔ آفت کش زراعتی

**مادهٔ ششم:**

(۱) به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون کمیته آفت کش های زراعتی به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- معین مسلکی وزارت زراعت، آبیاری ومالداری به حیث رئیس.

۲- رئیس حفاظت نباتات و قرنطین وزارت زراعت آبیاری ومالداری، بحیث معاون.

۳- نماینده با صلاحیت وزارت تجارت وصنایع به، حیث عضو.

۴- نماینده با صلاحیت وزارت صحت عامه، بحیث عضو.

۵- رئیس انستیتوت تحقیقات زراعتی، بحیث عضو.

۶- رئیس عمومی خدمات مالداری و صحت حیوانی، بحیث عضو.

۷- نمایندهٔ باصلاحیت اداره ملی حفاظت محیط زیست، بحیث عضو.

۸- نماینده با صلاحیت ادارهٔ ملی نورم

واکمن استازی، د غړي په توګه.

۹- د کابل پوهنتون د کرنې له پوهنځي څخه یوتن استاذ، د غړي په توګه.

۱۰- د کابل پوهنتون د وترنرۍ له پوهنځي څخه یوتن استاذ، د غړي په توګه.

۱۱- د نباتاتو او قرنطین د ساتنې د عمومي ریاست د کرنیزې کیمیاوي څانګې آمر، د منشي په توګه.

۱۲- د کابل پوهنتون د ژوند چاپېریال له پوهنځي څخه یوتن استاذ، د غړي په توګه.

۱۳- د کابل پوهنتون د فارمسي له پوهنځي څخه یوتن استاذ، د غړي په توګه.

۱۴- د سوداګرۍ او صنایعو له خونې څخه یو تن استازی، د غړي په توګه.

(۲) د کرنیزو آفت وژونکو کمیټه کولای شي، د اړتیا په صورت کې د مشورې او تخنیکي معلوماتو په منظور، اړوندو متخصصینو ته په خپلو غونډوکې بلنه ورکړي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج

و ستندرد، بحیث عضو.

۹- یکتن استاد ازپوهنځی زراعت پوهنتون کابل، بحیث عضو.

۱۰- یکتن استاد از پوهنځی وترنری پوهنتون کابل، به حیث عضو.

۱۱- آمر شعبه کیمیای زراعتی ریاست حفاظت نباتات وقرنطین، بحیث منشی.

۱۲- یکتن استاد ازپوهنځی محیط زیست پوهنتون کابل، به حیث عضو.

۱۳- یکتن استاد از پوهنځی فارمسی پوهنتون کابل، به حیث عضو.

۱۴- یکتن نماینده از اتاق تجارت و صنایع، به حیث عضو.

(۲) کمیته آفت کش ها ی زراعتی می تواند درصورت ضرورت به منظور مشوره و معلومات تخنیکی، ازمتخصصین عرصهٔ مربوط در جلسات خویش دعوت بعمل آورد.

(۳) طرز تدویر جلسات کمیتهٔ مندرج

شوې کميټې د غونډو د جوړولو ډول او د هغې فعاليتونه په هغه کړنلاره کې چې د کميټې لــه خــوا تصــويبيږي، تنظيمېږي.

## د کميټې دندې او واکونه

اوومه ماده:

د کرنيزو آفت وژونکو کميټه د لاندې دندو او واکونولرونکې ده:

۱- د ثبت له اړوند دفتر څخه د کرنيز آفت وژونکي د ثبت، بياثبت، تعليــق، تعويض او يا حذف د غوښتنليک تأييد يا رد ول.

۲- د مجازو او ممنوعو آفت وژونکو د لست برابرول او ترتيب.

۳- د نوو علمي معلومــاتو مطــابق د اړوندې ادارې يا دکميټې د دووتنو غړو په غوښتنه له لســت څخــه د آفــت وژونکو نوې کتنه، تعليق، تعويض يــا حذف.

۴- ددې قانون د حکمونو مطــابق، د اجازه ليک د اخيستلو لپاره د لازمــو شرايطو وضع کول.

فقرۀ (۱) این ماده و فعاليــت هــای آن در طرزالعمـــل کــه از طـــرف کميته تصويب مــی شــود، تنظــيم می گردد.

## وظايف و صلاحيت های کميته

مادۀ هفتم:

کميته آفت کش های زراعتــی دارای وظايف و صلاحيت های ذيل می باشد:

۱- تائيد يا رد درخواســت ثبــت، ثبــت مجــدد، تعليــق، تعــويض و يا حذف آفت کش زراعتی از دفترثبت مربوط.

۲- تهيه وترتيب لست آفت کش های مجاز وممنوع.

۳- تجديد نظر، تعليق، تعــويض يــا حذف آفت کش ها از لست مطــابق به معلومات علمی جديد بــه اســاس تقاضای ادارۀ ذيربط يا دوتن از اعضای کميته.

۴- وضــع شــرايط لازم جهــت اخذ اجازه نامه مطابق به احکام ايــن قانون.

۵- د کرنیزو آفت وژونکــو د ســم مدیریت او ګټې اخیســتنې لپــاره، د مشورو ورکول او د معیارونو ټاکل.
۶- ددې قانون د حکمونو مطــابق،د کرنې په ډګرکې د ګټورو فعــالیتونو د سرته رسولو لپاره او د خدمتونو او نورو اړوندو فعالیتونو د وړاندې کولو لپاره د مشورې وړاندې کول د حق الزحمــې ټاکل.
۷- د کرنیز آفت وژونکي د بقایاوو د غلظت د اکثر حد تأییدول.
۸- د کرنیز آفت وژونکي له ثبت څخه ډاډ تر لاسه کول.
۹- د کرنیز آفت وژونکي د ساتنې او ګټې اخیستنې د ځایونو ټاکل.
۱۰- د کرنیز آفت وژونکي د لېږدولو د ډول تنظیم او د خاصو شرایطو وضع کول.
۱۱- د ژوند چاپېریالي سالمې تګلارې (شېوې) مطابق، د نه استفادې وړ کرنیز آفت وژونکي، تشو جعبو او د کرنیــز آفت وژونکو وسایلو له وینځلو څخه د ترلاسه شوې مــایع د محــوې د ډول

۵- ارایۀ مشوره ها و تعیین معیارهــا جهت مدیریت و اســتفاده درســت آفت کش های زراعتی.
۶- ارایــه مشــوره جهــت انجــام فعالیــت هــای مفیــد در عرصــه زراعـــت و تعیـــین حـــق الزحمـــه برای ارایه خدمات وسایر فعالیت های مربـــوط، مطـــابق احکـــام ایـــن قانون.
۷- تائیـــد حـــداکثرغلظت بقایـــای آفت کش زراعتی.
۸- حصول اطمینان از ثبت آفت کش زراعتی.
۹- تعیین محلات نگهداری واستفاده آفت کش زراعتی.
۱۰- تنظیم طرز انتقال آفــت کــش زراعتـــی و وضـــع شـــرایط خاص.
۱۱- تنظیم طرزمحــو آفــت کــش زراعتـــی غیرقابـــل اســـتفاده، جعبه های خالی و مـــایع حاصـــله از شستشـــوی وســـایل آفـــت کـــش زراعتی مطابق به شیوه ســـالم محـــیط

تنظیم.

## د پلټونکو توظیفول

**اتمه ماده:**

(۱) د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداره، د دې قانون د حکمونو د تطبيق په منظور، پلټونکي د هغو مسلكي كاركوونكو له منځه څخه چې د تر پلټنې لاندې موضوع په هکله د ګټو تضاد ونه لري، توظيفوي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره كې درج پلټونكي، د لاندې دندو او واكونو لرونكي دي:

۱- د هغو اشخاصو كنترول او پلټنه چې كرنيز آفت وژونكي توليدوي، واردوي، صادروي، بسته بندي كوي، ليبل پرې لګوي (نصبوي)، ساتي، پلوري، ويشي، ليږدوي، ګټه ورڅخه اخلي او اعلاموي يې.

۲- په دې قانون كې درج د محوله (سپارل شوو) دندو د ښې اجراء په منظور، له اشخاصو څخه د معلوماتو او لازمي تخنيكي همكارۍ غوښتل.

زیستی.

## توظیف مفتشین

**مادۀ هشتم:**

(۱) ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطين به منظورتطبيق احكام اين قانون، مفتشين را ازميان كاركنان مسلكى كه در مورد موضوع تحت تفتيش تضاد منافع نداشته، توظيف مى نمايد.

(۲) مفتشين مندرج فقرۀ (۱) اين ماده داراى وظايف وصلاحيت هاى ذيل مى باشند:

۱- كنترول وتفتيش اشخاصى كه آفت كش زراعتى را توليد، توريد، تصدير، بسته بندى، نصب ليبل، نگهدارى، فروش، توزيع، انتقال، استفاده واعلان مى نمايد.

۲- مطالبه معلومات و همكارى تخنيكى لازم ازاشخاص به منظوراجراى بهتروظايف محوله مندرج اين قانون.

۳- له هغو ټولو موادو څخه د نمونې اخیستل چې دغه قانون پرهغو تطبیقیږي او اړوندو لابراتوارونو ته د تجزیې او تحلیل لپاره د هغو استول.

۴- د دې قانون له حکمونو څخه د مغایرو سرغړونو بررسي (څېړل) او د کرنیزو آفت وژونکو کمیټې ته د هغو د رپوټ وړاندې کول.

۵- ددې قانون د حکمونو د هر ډول مغایر فعالیت درول (توقف).

٦- د هرډول سند ونو او شیانو ضبطول چې پر سرغړونې دلالت وکړي او ددې قانون د حکمونو مطابق جرم وګڼل شي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې درج پلټونکي مکلف دي، د پلټنې په وخت کې د پلټنې مخصوص کارت وړاندې (ښکاره) کړي.

## د اعتراض د حق لرل

نهمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د پلټونکي یا د ثبت یا د لابراتوار د مسئول پر تصمیم

۳- اخذ نمونه ازتمام مواد که این قانون بالای آنها تطبیق می گردد وارسال آن جهت تحلیل وتجزیه به لابراتوار مربوط.

۴- بررسی تخلفات مغایر احکام این قانون وارایه گزارش آن به کمیته آفت کش های زراعتی.

۵- توقف هرنوع فعالیت مغایر احکام این قانون.

٦- ضبط هرنوع اسناد واشیای که دلالت برتخطی نموده ومطابق احکام این قانون جرم پنداشته شود.

(۳) مفتشین مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مکلف اند، حین تفتیش کارت مخصوص تفتیش را ارایه نمایند.

## داشتن حق اعتراض

مادهٔ نهم:

(۱) شخصی که به تصمیم مفتش ومسئول ثبت یا بخش لابراتوارقناعت

قناعت و نه لري،کولای شي د تصميم له تر لاسه کولو وروسته د (۳۰) ورځو په ترڅ کې، د کرنيزو آفت وژونکو کمېټې ته خپل اعتراض په ليکلې توګه وړاندې کړي.

(۲) د کرنيزو آفت وژونکو کمېټه مکلفه ده، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج اعتراض له ترلاسه کولو وروسته د (۳۰) ورځو په موده کې د هغه د رد يا منلو په هکله، تصميم ونيسي. دغه تصميم وروستنی دی.

## دريیم فصل

## اجازه ليک

### د اجازه ليک صادرول

**لسمه ماده:**

(۱) د آفت وژونکو توليد، واردول، صادرول، لېږدول، ساتل، پلورل او وېش، د اجازه ليک له لرلو پرته، ممنوع (بند) دي.

(۲) حکمي اشخاص کولای شي، ددې مادې په (۱) فقره کې د اجازه ليک د ترلاسه کولو لپاره، د نباتاتو د ساتنې او

نداشته باشد می تواند درخلال (۳۰) روز بعد از در يافت تصميم، به کميته آفت کش های زراعتی، اعتراض خودرا طورکتبی ارايه نمايد.

(۲) کميته آفت کش ها ی زراعتی مکلف است، بعد از دريافت اعتراض مندرج فقرۀ (۲) اين ماده در مدت (۳۰) روز در مورد رد يا قبول آن، تصميم اتخاذ نمايد.اين تصميم نهايی می باشد.

## فصل سوم

## اجازه نامه

### صدوراجازه نامه

**مادۀ دهم:**

(۱) توليد، توريد، تصدير، انتقال، نگهداری، فروش وتوزيع آفت کش های زراعتی بدون داشتن اجازه نامه ممنوع می باشد.

(۲) اشخاص حکمی می توانند، جهت کسب اجازه نامه مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به ادارۀ

قرنطین اداري ته لیکلـــي غوښـــتنلیک وړاندې کړي.

(۳) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره د واردولو اجازه لیک یوازې هغو حکمي اشخاصو ته چې د افغانستان د قوانینو مطابق رامنځته او ثبــت شــوي وي، لاندې شرایطو ته په پام ســره، د دوه کلونو مودې لپاره دتېرو مالي مکلفیتونو د تصفیې په صورت کې صادروي:

۱- د سوداګریز جواز لیک لرل.

۲- له بین المللي معتبرو کمپنیو څخه د کرنیزو آفت وژونکو واردول.

۳- د تجزیې او تحلیل لپاره له واردولو څخه د مخه، د آفت وژونکو د نمونو (بیلګو) وړاندې کول.

۴- د کرنیزو آفت وژونکو د خرڅلاو په مغازو کې، د کرنې په برخه کــې د تحصیلاتو لرونکو مسلکي اشخاصــو استخدامول.

۵- د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداري ته، د پلورونکو او اړوندو پـر چــون پلورونکو د نماینــده ګیــو د لســت وړاندې کول.

حفاظت نباتات وقرنطین درخواســت کتبی ارایه نمایند.

(۳) ادارۀ حفاظت نباتات وقــرنطین اجازه نامه توريد را صرف به اشخاص حکمی که مطابق قــوانین افغانســتان ایجاد وثبت شده باشد با نظرداشــت شرایط ذیل برای مدت دو ســال در صورت تصفیه مکلفیت هــای مــالی گذشته صادرمی نماید:

۱- داشتن جوازنامه تجارتی.

۲- تورید آفت کش های زراعتــی از کمپنی های معتبر بین المللی.

۳- ارایـــــه نمونـــــه هـــــای آفت کش ها قبل از تورید جهت تجزیه و تحلیل.

۴- استخدام اشخاص مسلکی دارای تحصــیلات دربخــش زراعــت در مغازه های فروش آفت کــش هــای زراعتی.

۵- ارایه لســت فروشــند گــان و نمایـنــدگی هـــای پرچـــون فروشـــی مربوط، به اداره حفاظــت نباتــات و قرنطین.

۶- د نباتاتو د ساتنې او قرنطين د رياست د ثبت په دفتر کې له وارديدو وروسته د کرنيزو آفت وژونکو، ثبتول.
(۴) د کرنيزو آفت وژونکو په توليد، صادرولو، لېږد، ساتلو، پلورلو، او وېش او ددې مادې په (۲) فقره کې درج د اجازه ليک حق الامتياز پورې اړوندې چارې، په جلا مقرره کې تنظيمېږي.
(۵) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی اجازه ليک، بل شخص ته د لېږدولو وړنه دی.
(۶) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې درج شوي غوښتنليک، د نباتاتو د ساتنې او قرنطين د ادارې له خوا ردشي، غوښتنليک ورکوونکی کولای شي، د نه قناعت په صورت کې، خپل اعتراض په ليکلې توګه، د کرنيزو آفت وژونکو کمېټې ته وړاندې کړي، د غوښتنليک د رد يا منلو په هکله د کرنيزو آفت وژونکو د کمېټې تصميم، وروستنی دی.

۶- ثبت آفت کش های زراعتی بعد از توريد، در دفتر ثبت رياست حفاظت نباتات و قرنطين .
(۴) امورمربوط به توليد، تصدير، انتقال، نگهداری، فروش و توزيع آفت کش های زراعتی و حق الامتياز اجازه نامه مندرج فقره (۲) اين ماده در مقررۀ جداگانه تنظيم می گردد.
(۵) اجازه نامه مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به شخص ديگرقابل انتقال نمی باشد.
(۶) هرگاه درخواست مندرج فقرۀ (۲) اين ماده ازطرف ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطين رد گردد، درخواست دهنده می تواند درصورت عدم قناعت اعتراض خود را طورکتبی به کميته آفت کش های زراعتی ارايه نمايد. تصميم کميته آفت کش های زراعتی در مورد قبول يا رد درخواست نهايی می باشد.

## د اجازه لیک له اخیستلو پرته پېرودل

**یوولسمه ماده:**

کرنیز کوپراتیفونه کولای شي د خپلې اړتیا وړ کرنیز آفت وژونکي د ځمکوالۍ د ساحې په تناسب د نباتاتو د ساتنې د فني پر سونل د سپارښت مطابق، د اجازه لیک له اخیستلو پرته و پېري او د ساتندویه تدبیرونو په نیولو سره یې و ساتي.

## د اجازه لیک د لرونکي مکلفیت

**دوولسمه ماده:**

د اجازه لیک لرونکی د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱- د پنځو کلونو اقل حد مودې لپاره د کرنیزو آفت وژونکو د تولید، واردولو، صادرولو، ساتلو، پېراو پلور، ګټې اخیستنې، وېش، فورمولبندۍ او نورو اړوندو سندونو ساتنه.

۲- د پلټونکو او واکمنو مقاماتو په غوښتنه، ددې مادې په (۱) جزء کې د درج شوو سند ونو په لاس ورکول.

## خریداری بدون اخذ اجازه نامه

**مادهٔ یازدهم:**

کوپراتیف های زراعتی می توانند آفت کش های زراعتی مورد ضرورت خود را متناسب به ساحه زمینداری طبق سفارش پرسونل فنی حفاظت نباتات بدون اخذ اجازه نامه خریداری و با اتخاذ تدابیرحفاظتی نگهداری نمایند.

## مکلفیت دارنده اجازه نامه

**مادهٔ دوازدهم:**

دارنده اجازه نامه دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- حفظ اسناد مربوط به تولید، واردات، صادرات، نگهداری،خرید و فروش، استفاده، توزیع، فورمولبندی و سایر اسناد مربوط به آفت کش های زراعتی برای مدت حداقل پنج سال.

۲- بدسترس قراردادن اسناد مندرج جزء(۱) این ماده به اساس تقاضای مفتشین ومقامات ذیصلاح.

۳- د کرنیزو آفت وژونکو د حفـــظ، ساتنې او لېږد په خاطر د تدبیرونو نیول.
۴- د ژوند د چاپېریال ساتنې ته پام.
۵- له هغو بندرونو څخه چې هلتـــه د آفت وژونکو د تجزیې او تحلیل وسایل موجود وي د کرنیزو آفت وژونکـــو واردول.
۶- په اجازه لیک د درج شوو شرایطو رعایتول.

## د اجازه لیک نوی کول

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د اجازه لیک لرونکی ملکف دی، د هغه د اعتبار د مودې له پـــای تـــه رسېدو مخکې، د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې، اړوند اجازه لیک نوی کړي، د اجازه لیک د اعتبار د مودې د ختم څخه وروسته د هرې ورځې ځنډ پـــه وړاندې د پنځه سوو (۵۰۰) افغـــانیو نغدي جریمې په ورکولو مکلف کېږي.
(۲) اجازه لیک د هغه د اعتبار د مودې له پای ته رسېدو وروسته، ددې قانون د حکمونو د رعایتولو په صورت کې د

۳- اتخاذ تدابیربخاطرحفظ، نگهداری وانتقال آفت کش های زراعتی.
۴- رعایت حفاظت از محیط زیست.
۵- تورید آفت کش هـــای زراعتـــی ازبنادری کـــه درآن وســـایل تجزیـــه وتحلیل آفـــت کـــش هـــا موجـــود باشد.
۶- رعایت شرایط منـــدرج اجـــازه نامه.

## تجدید اجازه نامه

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) دارندۀ اجازه نامه مکلف اســـت، درخلاـــل مـــدت (۳۰) روز قبـــل از ختم میعـــاد اعتبـــارآن اجـــازه نامـــه مربوط را تجدید نماید، بعد از خـــتم میعاد اعتبار اجازه نامه در برابر هر روز تأخـــیر مـــکلف به پرداخـــت مبلـــغ پنجصد (۵۰۰) افغـــــانی جـــــریمه نقدی می گردد.
(۲) اجازه نامه بعد از خـــتم میعـــاد اعتبـــــارآن درصـــــورت رعایـــــت احکام این قانون، طبق مقرره مربـــوط

مربوطې مقررې مطابق نوی کېږي.

## د اجازه لیک لغو

**څوارلسمه ماده:**

په دې قانون کې درج شوی اجازه لیک په لاندې حالاتو کې لغو کېږي:

۱- ددې قانون د حکمونو د نه رعایتولو په صورت کې.

۲- د اجازه لیک د لرونکي د فوت یا دحکمي شخصیت د انحلال په صورت کې.

۳- د خوندیتوب (ایمنۍ) دلایلو موجودیت چې د کرنیزو آفت وژونکو سوداگري یا گټه اخیستنه، تأسیسات او په اجازه لیک کې درج شوي نور شرایط توجیه کړي.

## اجازه لیک تسلیمول

**پنځلسمه ماده:**

که چېرې د اجازه لیک لرونکی ونکړای شي، خپل فعالیت ته ادامه ورکړي، مکلف دی، اړوند اجازه لیک د موجودو آفت وژونکو له ربوټ سره یوځای په لیکلې توگه د نباتاتو د ساتنې

تجدید می شود.

## لغواجازه نامه

**مادۀ چهاردهم:**

اجازه نامۀ مندرج این قانون درحالات ذیل لغو می گردد:

۱- درصورت عدم رعایت احکام این قانون.

۲- درصورت فوت دارندۀ اجازه نامه یا انحلال شخصیت حکمی.

۳- موجودیت دلایل ایمنی که محدود نمودن تجارت یا استفادۀ آفت کش های زراعتی، تأسیسات وسایرشرایط مندرج اجازه نامه را توجیه نماید.

## تسلیمی اجازه نامه

**مادۀ پانزدهم:**

هرگاه دارندۀ اجازه نامه نتواند به فعالیت خویش ادامه دهد، مکلف است، اجازه نامۀ مربوط را با ارایۀ گزارش از آفت کش های موجود طورکتبی به ادارۀ حفاظت نباتات

او قرنطین اداري ته تسلیم کړي.

## څلورم فصل

## د آفت وژونکي ثبت

### د ثبت غوښتنلیک

**شپاړلسمه ماده:**

(۱) د کرنیزو آفت وژونکو د ثبت غوښتونکي مکلف دي، ددې قانون د حکمونو مطابق، د اړوندو آفت وژونکو د ثبت غوښتنلیک، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداري ته وړاندې کړي.

(۲) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره مکلفه ده، مجاز آفت وژونکي په اړوند دفتر کې ثبت کړي.

(۳) هغه کرنیز آفت وژونکي چې ددې قانون له انفاذ د مخه موجود دي او ددې قانون د حکمونو مطابق، د ګټې اخیستنې وړ نه وي، د هغو د ګټې اخیستنې موده او مقدار، د کرنیزو آفت وژونکو د کمیټې له خوا ټاکل او بیا ثبتیږي، پرته له دې محو کیږي.

وقرنطین تسلیم نماید.

## فصل چهارم

## ثبت آفت کش

### درخواست ثبت

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) متقاضیان ثبت آفت کش های زراعتی مکلف اند، مطابق احکام این قانون، درخواست ثبت آفت کش های زراعتی مربوط را به ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطین ارایه نمایند.

(۲) ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطین مکلف است، آفت کش های زراعتی مجاز را در دفتر مربوط ثبت نماید.

(۳) آفت کش های زراعتی که قبل ازانفاذ این قانون موجود بوده ومطابق احکام این قانون قابل استفاده نباشد، مدت ومقداراستفاده آن ازطرف کمیته آفت کش های زراعتی تعیین و ثبت مجدد می گردد، در غیر آن، محو می شود.

## د نه ثبت شووکرنیزو آفت وژونکو د واردېدو منع

**اووه لسمه ماده:**

(۱) د نه ثبت شووکرنیزو آفت وژونکو تولید، واردول،صادرول، ساتل، پلورل، وېش، تطبیق، ګټه اخیستنه او اعــلان ممنوع دی.

هغه کرنیز آفــت وژونکــي چــې د اضطرار په حالت کې (و بایی آفتونــه) د آفتونو د شــیوع د مخنیــوي پــه منظورد آفت وژونکوکمیټې په اجــازه واردېږي، له دې حکم څخه مســتثني دي.

## د مؤقتې څېړنې (تحقیق) اجــازه لیک

**اتلسمه ماده:**

(۱) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره کولای شي، د کرنیزو آفت وژونکو د کمیټې له تأیید وروسته د هغو حکمي، اشخاصو لپاره چې کرنیز آفت وژونکي د علمي څېړنــو او فورمولبنــدۍ پــه منظور، واردوي، ددې قانون د حکمونو

## منع تورید آفت کش های زراعتی ثبت ناشده

**مادهٔ هفدهم:**

تولید، واردات، صــادرات، انتقــل، نگهداری، فروش، توزیــع، تطبیــق، استفاده و اعلان آفت کش های زراعتی ثبت ناشده ممنوع می باشد.

آفت کش های زراعتی که در حالات اضطرار(آفات وبــایی) بــه منظــور جلوگیری از شیوع آفات بــه اجــازهٔ کمیتهٔ آفت کــش رزاعتــی توریــد می گردد، از ایــن حکــم مســتثنی می باشد.

## اجـــــازه نامـــــه مؤقـــــت تحقیق

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) ادارهٔ حفاظت نباتات وقــرنطین می تواند، بعداز تائید کمیته آفت کش های زراعتی برای اشخاص حکمی که آفت کش های زراعتی را به منظــور انجام تحقیقات علمی و فورمولبنــدی توريد میکنند، مطابق احکام این قانون

مطابق مؤقت (لنډ مهاله) اجازه لیک ورکړي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص مکلف دي، د خپلو څېړنو پایلې د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې ته په لیکلي توګه وړاندې کړي.

## په اضطراري حالاتو کې له کرنیزو آفت وژونکو څخه ګټه اخیستنه

نولسمه ماده:

د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره کولای شي، د کرنیزو آفت وژونکو د کمیټې له تأیید وروسته، د اجازه لیک لرونکي ته، له نه ثبت شوو کرنیزو آفت وژونکو څخه د ګټې اخیستنې اجازه، په اضطراري یا د نباتي آفتونو د شیوع په حالاتو کې، لاندې شرایطو ته په پام سره ورکړي:

۱- په هغه صورت کې چې په لست کې شامل ثبت شوی کرنیز آفت کافي نه وي یا په هغه اندازه نه وي چې د کرنیز آفت مخه چې د اضطرار د حالت باعث ګرځېدلي دي، ونیسي.

اجازه نامۀ مؤقت را اعطاء نماید.

(۲) اشخاص مندرج فقرۀ (۱) این ماده مکلف اند، نتایج تحقیقات خویش را به ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطین بطور کتبی ارایه نمایند.

## استفاده از آفت کش های زراعتی درحالات اضطراری

مادۀ نزدهم:

ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطین می تواند، بعداز تائید کمیته آفت کش های زراعتی، برای دارنده اجازه نامه، اجازه استفاده از آفت کش های زراعتی ثبت ناشده را در حالات اضطراری یا شیوع آفات نباتی بانظرداشت شرایط ذیل اعطاء نماید:

۱- درصورتی که آفت کش زراعتی ثبت شده شامل لست کافی نبوده یا به اندازه نباشد که جلو آفات زراعتی را که باعث حالت اضطرار گردیده است، بگیرد.

۲- د ګټې اخيستنې موده د ټاکلي وخت لپاره ده او د کرنيزو آفت وژونکو د کميټې په واسطه ټاکلې شوې وي.

۳- د اجازه ليک لرونکی او د هغو محموله مشخصه شوې وي.

## د ثبت له دفتر څخه د کرنيزو آفت وژونکو حذف

**شلمه ماده:**

د کرنيزو آفت وژونکو کمېټه کولای شي، د کرنيزو آفت وژونکو ثبت، لاندې شرايطوته په پام سره له لست څخه حذف کړي:

۱- د کرنيزو آفت وژونکو نه اغېز منتوب.

۲- د نوو علمي معلوماتو پر بنسټ د انسانانو، نباتاتو حيواناتو روغتيا يا د ژوند چاپېريال ته د کرنيزو آفت وژونکو مضريت (زيان رسونه).

۳- له آفتنو څخه د مخنيوي لپاره د نورو محصولاتو يا اقداماتو موجوديت وجود ولري چې پرکرنيزو آفت وژونکو

۲- اجازه استفاده برای مدت معین بوده وتوسط کمیته آفت کش های زراعتی تعیین شده باشد.

۳- دارنده اجازه نامه و محموله آن مشخص گردیده باشد.

## حذف آفت کش های زراعتی از دفتر ثبت

**مادهٔ بیستم:**

کمیته آفت کش های زراعتی می تواند، ثبت آفت کش های زراعتی را با نظرداشت شرایط ذیل از لست حذف نماید:

۱- عدم مؤثریت آفت کش های زراعتی.

۲- مضریت آفت کش های زراعتی به صحت انسانها، نباتات، حیوانات یا محیط زیست به اساس معلومات علمی جدید.

۳- موجودیت سایر محصولات یا اقدامات برای جلوگیری از آفات موجود باشد که دارای اثر بیشتر یا اثر

باندې د زيات اغېز يا مساوي اغيز لرونكي وي او خطرونه يې لږوي.

۴- په ورته هېواد كې په عين شرايطو سره يا د هغه قرار داد او بين المللي كنوانسيونونو پر بنسټ چې افغانستان ورسره الحاق كړى وي، د كرنيزو آفت وژونكو ممنوعيت يا محدوديت.

## له كرنيزو آفت وژونكو څخه د ګټې اخيستنې منع

**يوويشتمه ماده:**

(۱) د كرنيزو آفت وژونكو كميټه كولاى شي، په هغو مواردو كې چې له ثبت شوو هغو كرنيزو آفت وژونكو څخه ګټه اخيستنه چې د انسان، نبات، حيوان د صحت يا د ژوند چاپېريال ته د خطر باعث شي، د قانع كوونكو د لايلو په وړاندې كولو سره، لاندې اقدامات عملي كړي:

۱- د كرنيز آفت وژونكي مؤقتي (لنډ مهاله) پلور، وېش يا ګټې اخيستنې ممنوع كول يا د كرنيز آفت وژونكې د يوې خاص (ځانګړې) بستې ممنوعيت.

مساوى با آفت كش هاى زراعتى بوده وخطرات آن كمتر باشد.

۴- ممنوعيت يا محدوديت آفت كش هاى زراعتى دريک كشور مشابه با عين شرايط يا به اساس قرارداد وكنوانسيون هاى بين المللى كه افغانستان به آن الحاق نموده باشد.

## منع استفاده از آفت كش هاى زراعتى

**مادۀ بيست ويكم:**

(۱) كميته آفت كش هاى زراعتى ميتواند با ارايه دلايل قانع كننده در موارد كه استفاده از آفت كش هاى زراعتى ثبت شده كه باعث خطر به صحت انسان، حيوان يا محيط زيست گردد، اقدامات ذيل را عملى نمايد:

۱- ممنوع قراردادن مؤقتى فروش، توزيع ويا استفاده آفت كش زراعتى يا ممنوعيت يک بسته خاص از آفت كش زراعتى.

۲- شخص یا ثبتوونکي اداري ته په رسمي توګه د یوهٔ کرنیز آفت وژونکي د ګټې اخیستنې د ساحې او د اعتبار د وخت (زمان) مشخصول.

۳- د موضوع په اړه د څېړنو د (تحقیقاتو) سرته رسول.

(۲) د کرنیزو آفت وژونکو کمېټه کولای شي، د څېړنو د پایلو مطابق، له یوه کرنیز آفت وژونکي څخه ګټې اخیستنې د مؤقتي ممنوعیت لغو یا د هغه ثبت تعدیل، تعلیق یا حذف کړي.

**د څېړنو پایلې**

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱) د کرنیزو آفت وژونکو کمیټه مکلفه ده، د دریو میاشتو په ترڅ کې د کرنیزو آفت وژونکو په هکله د څېړنو پایلې چې مؤقتاً ممنوع شوي دي، د هغو د ادامې یا رفع په هکله، ترلاسه شوو پایلو ته په پام سره، تصمیم و نیسي.

(۲) که چېرې د څېړنو د پایلو او د کمیټې د تصمیم پربنسټ، له یوه یا څو

۲- مشخص نمودن ساحهٔ استفاده و زمان اعتبار یک آفت کش زراعتی بصورت رسمی به شخص یا اداره ثبت کننده.

۳- انجام تحقیقات در رابطه به موضوع.

(۲)کمیته آفت کش های زراعتی می تواند، مطابق نتایج تحقیقات، ممنوعیت مؤقتی استفاده از یک آفت کش زراعتی را لغو یا ثبت آن را تعدیل، تعلیق یا حذف نماید.

**نتایج تحقیقات**

**مادهٔ بیست ودوم:**

(۱)کمیته آفت کش های زراعتی مکلف است، درخلال سه ماه نتایج تحقیقات را در مورد آفت کش های زراعتی که موقتاً ممنوع شده، بادرنظرداشت نتایج حاصله در مورد ادامه ممنوعیت یا رفع آن تصمیم اتخاذ نماید.

(۲) هرگاه براساس نتایج تحقیقات و تصمیم کمیته، استفاده از یک یا چند

ډوله کرنیزو آفت وژونکو څخه ګټه اخیستنه په دایمي توګه ممنوع شي، د هغو د موجودو زیرمو د له منځه وړلو په هکله تصمیم نیسي.

## پنځم فصل

## ساتندویه تدبیرونه

### د برچسب (لېبل) نصبول

**درویشتمه ماده:**

دلاندې مطالبو لرونکې بسته بندي شوو او برچسب (لیبل) لرونکو کرنیزو آفت وژونکو بارجامې د هېواد په یوې له رسمي ژبو څخه وي:

۱- د کرنیزو آفت وژونکو معمول او سوداګریز نوم، غلظت، فورمولبندي او د عناصرو ترکیب.

۲- د محصول ډول ( د حشره وژونکو، قارچ وژونکو، علف وژونکو یا د ژوونکو ځناورو د وژونکو په شان).

۳- د هغه آفتونو نوم چې آفت وژونکی هغه له منځه وړي او له هغو څخه د

نوع آفت کش های زراعتی به طوردایم ممنوع گردد، در مورد ازبین بردن ذخایر موجود آن تصمیم اتخاذ می نماید.

## فصل پنجم

## تدابیر حفاظتی

### نصب برچسب (لیبل)

**مادۀ بیست وسوم:**

بارجامه های آفت کش های زراعتی بسته بندی شده ودارای برچسب (لیبل) حاوی مطالب ذیل به یکی از زبان های رسمی کشور می باشد:

۱- نام معمول و تجارتی، غلظت، فورمولبندی و ترکیب عناصر آفت کش های زراعتی.

۲- نوع محصول (از قبیل حشره کش، قارچ کش، علف کش یا کشنده جانوران جونده).

۳- نام آفاتی که آفت کش آنرا از بین برده و مقدار استفاده

استفادې اندازه.

۴- د ګټې اخيستنې طريقه، د آفت وژونکي تطبيق او دوام او هغه زماني واټن چې د محصول له اخيستلو د مخه په پام کې ونيول شي (رعايت شي).

۵- د مسموميت د اعراضو او علايمو، د خونديتوب د معلوماتو، روغتيايي اقداماتو او لومړنيو مرستو، د خطر د سمبولونو او د ژوند چاپېريال د ساتنې لپاره مخکې له مخکې مخه نيوونکو اقداماتو په شمول، اخطاريه او احتياطي تدبيرونه.

٦- د توليد، انقضاء، د بستې د ګڼې (شمارې) او توليدوونکي هېواد نوم.

۷- نور لازم تخنيکي شرايط.

## د سوداګريزو اعلانونو منع

**څلېريشتمه ماده:**

د نه ثبت شوو کرنيزو آفت وژونکو يا هغو آفت وژونکي چې له هغو څخه ګټه اخيستنه مسلکي اشخاصو او خاصو تخنيکي وسايلو ته اړتيا لري هڅوونکي (تشويقوونکي) اعلانونه، ممنوع دي.

از آن.

۴- طريقه استفاده، تطبيق و دوام آفت کش وفاصله زمانی که قبل ازبرداشت محصول رعايت گردد .

۵- اخطاريه و تدابير احتياطی بشمول اعراض و علايم مسموميت، معلومات ايمنی، اقدامات صحی و کمک های اوليه، سمبول های خطر واقدامات پيشگيرانه برای حفاظت محيط زيست.

٦- تاريخ توليد، انقضاء، شمارۀ بسته ونام کشورتوليد کننده.

۷- سايرشرايط تخنيکی لازم.

## منع اعلانات تجارتی

**مادۀ بيست وچهارم:**

اعلانات تشويق کننده آفت کش های زراعتی ثبت ناشده يا آفت کش های که استفاده آنها به اشخاص مسلکی و وسايل تخنيکی خاص ضرورت دارد، ممنوع می باشد.

## شپږم فصل

## متفرقه حکمونه

**د لابراتوار جوړول**

**پنځه ویشتمه ماده:**

(۱) د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت کولای شي، د کرنیزو آفت وژونکو د فورمولبندۍ او ترکیب او د هغو د نمونو د تحلیل په منظور، لابراتوارونه جوړ کړي.

(۲) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره مکلفه ده، هغه کرنیز آفت وژونکي چې د پلټونکو په واسطه راټولیږي، د تحلیل، د کیفیت د کنترول او د هغو د ثبت لپاره، ددې مادې په (۱) فقره کې درج لابراتوار ته واستوي.

**د لابراتوار د فعالیت ساحه**

**شپږ ویشتمه ماده:**

(۱) ددې قانون په پنځه ویشتمه ماده کې درج شوی لابرتوار په لاندې مواردوکې فعالیت کوي:

۱- د آفت وژونکي د فعالو اجزاوو او

## فصل ششم

## احکام متفرقه

**ایجاد لابراتوار**

**مادۀ بیست وپنجم:**

(۱) وزارت زراعت، آبیاری ومالداری می تواند، به منظور فورمولبندی و ترکیب آفت کش های زراعتی و تحلیل نمونه های آن لابراتوارها را ایجاد نماید.

(۲) ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطین مکلف است، آفت کش های زراعتی که توسط مفتشین جمع آوری می گردد جهت تحلیل، کنترول کیفیت و ثبت آنها به لابراتوار مندرج فقرۀ (۱) این ماده ارسال نماید.

**ساحه فعالیت لابراتوار**

**مادۀ بیست وششم:**

(۱) لابراتوار مندرج مادۀ بیست وپنجم این قانون درموارد ذیل فعالیت می نماید:

۱- ارایه معلومات به درخواست دهنده

پر کرنیز محصول باندې د کرنیزو آفت وژونکو د بقایاوو (پاتوشونو) د میزان په هکله د هغو د ثبت په منظور، غوښتنلیک ورکوونکو ته د معلوماتو وړاندې کول.

۲- د کرنیزو آفت وژونکو د عضوي مزمنو ککړوونکو، د ژوند چاپېریال او د ممنوعو او نه ثبت شوو کرنیزو آفت وژونکو موجودیت او محوې باندې د مطالعاتو سرته رسول.

۳- د کرنیزو آفت وژونکو په بقایا وو باندې مطالعې په منظور د پروتوکولونو په رامنځته کولو کې همکاري.

۴- د ژوند چاپېریال ساتنې له ملي اداري سره، د کرنیزو آفت وژونکو د بقایاوو د مطالعاتو او په هغو پورې د اړوندو (مرتبطو) ترسره شوو مطالعاتو تر منځ هم غږي.

(۲) د کرنیزو آفت وژونکو د لابراتوار مسئولین مکلف دي، د هغه فورمول محرمیت چې د تحلیل یا ازمېښت لپاره هغوي ته استول کېږي، د هغه له سوابقو سره وساتي.

در مورد اجزای فعال آفت کش و میزان بقایای آفت کش های زراعتی بالای محصول زراعتی به منظور ثبت آنها.

۲- انجام مطالعات بالای موجودیت و محو آلوده کننده های مزمن عضوی آفت کش های زراعتی، محیط زیست و آفت کش های زراعتی ممنوع و ثبت ناشده.

۳- همکاری در ایجاد پروتوکول ها به منظور مطالعه بالای بقایای آفت کش های زراعتی.

۴- هماهنگی میان مطالعات بقایای آفت کش های زراعتی و مطالعات انجام شدهٔ مرتبط به آنها با ادارهٔ ملی حفاظت محیط زیست.

(۲) مسئولین لابراتوار آفت کش های زراعتی مکلف اند، محرمیت فورمول را که برای تحلیل یا آزمایش به آنها فرستاده می شود، با سوابق آن حفظ نمایند.

## تأديبي مؤيدات

**اووه ويشتمه ماده:**

(۱) که چېرې شخص د اجازه لیک له لرلو یا له بسته بندۍ او له سریال نمبر او مخصوص برچسب (لېبل) پرته، د کرنیزو آفت وژونکو په واردولو او پلور لو لاس پورې کړي، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره، د کرنیزو آفت وژونکو پر محو برسېره، سرغړوونکي، د واردوشوو آفت وژونکو د تمامې شوې بیې د دېرش سلنې پرورکړې هم مکلفوي.

(۲) که چېرې شخص د مجازو آفت وژونکو د لست خلاف له اجازه لیک پرته، کرنيز آفت وژونکي وارد کړي، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره، د کرنیزو آفت وژونکو پر ضبط برسیره، سرغړوونکی، د وارد شوو آفت وژونکو د تمامي شوې بیې د دېرش سلنې پر ورکړې هم مکلفوي.

(۳) که چېرې د اجازه لیک لرونکی د اړوند و سندونو په ساتنه کې سهل

## مؤيدات تأديبی

**مادۀ بیست وهفتم:**

(۱) هرگاه شخص بدون داشتن اجازه نامه یا بدون بسته بندی وشماره سریال و برچسب (لیبل) مخصوص، به تورید وفروش آفت کش های زراعتی اقدام نماید، ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطین علاوه از ضبط آفت کش های زراعتی، متخلف را مکلف به پرداخت سی فیصد قیمت تمام شد آفت کش های تورید شده نیز می نماید.

(۲) هرگاه شخص خلاف لست آفت کش های مجاز بدون اجازه نامه، آفت کش های زراعتی را وارد نماید، ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطین علاوه ازضبط آفت کش های زراعتی، متخلف را مکلف به پرداخت سی فیصد قیمت تمام شد آفت کش های تورید شده نیز می نماید.

(۳) هرگاه دارنده اجازه نامه درحفظ اسناد مربوطه سهل

انګاري وکړي یا هغه د پلټونکو د غوښتنې په وخت کې په لاس ورنکړي، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره د سرغړوونکي د سوداګرۍ ځای، د سندونو تر وړاندې کولو پورې تړي (بندوي)، له یوې میاشتې څخه ترزیاتې مودې پورې د سندونو د نه وړاندې کولو په صورت کې، د هغه د فعالیت اجازه لیک لغو کیږي.

(۴) که چیرې د اجازه لیک لرونکی، د کرنیزو آفت وژونکو دثبت غوښتنلیک اړوندې ادارې ته وړاندې کړی نه وي او له ثبت پرته د کرنیزو آفت وژونکو په واردولو، ساتلو، اعلان، پلورلو، وېش، تطبیق او ګټې اخیستنې لاس پورې کړي، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین د ادارې له خوا له احوالو سره سم، د واردوشوو آفت وژونکو د تمامې شوې بیې د پنځوس سلنې پرورکړه مکلف کیږي.

(۵) که چیرې د تجزیې او تحلیل پایلې د وړاندې شوې نمونې خلاف څرګندې شي، وارد شوي

انگاری نموده یا آنرا حین تقاضای مفتشین بدسترس قرار ندهد، ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین محل تجارت متخلف را الی ارایه اسناد مسدود می نماید، درصورت عدم ارایه اسناد الی مدت بیشتر ازیک ماه اجازه نامه فعالیت آن لغو می گردد.

(۴) هرگاه دارندهٔ اجازه نامه درخواست ثبت آفت کش های زراعتی را به اداره مربوط ارایه ننموده باشد وبدون ثبت به، تورید، نگهداری، اعلان، فروش، توزیع، تطبیق واستفاده آفت کش های زراعتی مبادرت ورزد، از طرف ادارهٔ حفاظت نباتات وقرنطین حسب احوال مکلف به پرداخت پنجاه فیصد قیمت تمام شد آفت کش های تورید شده می گردد.

(۵) هرگاه نتایج تجزیه وتحلیل خلاف نمونه ارایه شده ثابت شود، آفت کش های وارد شده ضبط

آفت وژونکي ضبط او سرغړونکی د هغو د تمامي شوې بيې د شل سلنې پر ورکړې مکلف کېږي.

په هغه صورت کې چې واردوونکی مقصر ثابت شي وروسته له شل سلنې (۲۰٪) جريمه اخيستنې، واردشوي آفت وژونکي دې محو شي.

(٦) د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداره مکلفه ده تحصيل شوي مبالغ د (۱۰) ورځو په ترڅ کې د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحويل کړي.

## د ادارو مکلفيت

**اته ويشتمه ماده:**

(۱) د ماليې، سوداګرۍ او صنايعو وزارتونه، د نورم او ستندرد اداره، د ملي امنيت، جنايي پوليسو ارګانونه او نورې اړوندې ادارې مکلفې دي د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ له وزارت سره، د کرنيزو آفت وژونکو د واردېدو او صادريدو د کنترول په هکله همکاري وکړي او ددې قانون د حکمونو خلاف د کرنيزو آفت وژونکو

ومتخلف مکلف به پرداخت بيست فيصد قيمت تمام شد آن می گردد.

در صورتی که واردکننده مقصر ثابت شود بعد از اخذ بيست فيصد (۲۰٪) جريمه، آفت کش وارد شده محو گردد.

(٦) ادارۀ حفاظت نباتات وقرنطين مکلف است مبالغ تحصيل شده را درخلال (۱۰) روز به حساب واردات دولت تحويل بانک نمايد .

## مکلفيت ادارات

**مادۀ بيست وهشتم:**

(۱) وزارت های ماليه و تجارت و صنايع، ادارۀ نورم و ستندرد، ارگان های امنيت ملی، پوليس جنايی وساير ادارات ذيربط مکلف اند با وزارت زراعت، آبياری و مالداری درمورد کنترول واردات و صادرات آفت کش های زراعتی همکاری نموده و از ورود آفت کش های زراعتی خلاف احکام اين قانون

له وراديدو څخه مخنيوی وکړي.

(۲) د ګمرکونو مسئولين مکلف دي، د کرنيزوآفت وژونکو د واردولو اجازه، د واردولو د اجازه ليک لرونکي ته ورکړي.

## د مقررې وړانديز او دکړنلارو وضع کول

**نهه ويشتمه ماده:**

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت کولای شي، ددې قانون د حکمونو د ښه تطبيق په منظور، مقررې وړانديز، کړنلارې او لارښودونه چې ددې قانون د حکمونو مغاير نه وي، وضع کړي.

## انفاذ

**دېرشمه ماده:**

دغه قانون د توشيح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جريده کې دې، خپورشي او په نافذېدو سره يې د ۲۷/ ۷/ ۱۳۹۴ نېټې په (۱۱۹۰) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د کرنيزو آفت وژونکو قانون ملغي کېږي.

جلوگيری نمايند.

(۲) مسئولين گمرکات مکلف اند، اجازۀ ورود آفت کش های زراعتی را به دارنده اجازه نامه توريد بدهند.

## پيشنهاد مقرره ووضع طرزالعمل ها

**مادۀ بيست ونهم:**

وزارت زراعت، آبياری ومالداری می تواند، به منظور تطبيق بهتراحکام اين قانون مقرره ها را پيشنهاد، طرزالعمل ها ورهنمودها را که مغايراحکام اين قانون نباشد، وضع نمايد.

## انفاذ

**مادۀ سی ام:**

اين قانون از تاريخ توشيح نافذ و درجريدۀ رسمی، نشر گردد و با انفاذ آن، قانون آفت کش های زراعتی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۱۹۰) مؤرخ ۱۳۹۴/۷/۲۷ ملغی می گردد.

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات :　　　(۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور:　　　(۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

**ISLAMIC REPUBLIC**
**OF**
**AFGHANISTAN**
**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

**Extraordinary Issue**

- **Plant Variety Protection Act**
- **Animal Health Act(Veterinary)**
- **Agricultural Pesticides Act**

**Date:11th October.2016**
**ISSUE NO:(1229)**